ليکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خليلي

۲۸ نومبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۱۱

د تدريس طريقه

ابن خلدون د تاريخ د فلسفي د مؤسس او د ټولنپوه په حيث پيژندل کيږي؛ خو ددې تر څنګ هغه د ښووني او روزني يو ستر ماهر هم وه، ابن خلدون د تدريس ځيني دورې يا طريقې په لاندې ډول بيان کړي دي.

۱- علوم بايد په تدريجي ډول زده کړل شي

ابن خلدون وايي، چې د درس د يادولو ګټوره طريقه داده، چې علوم په تدريجي ډول ياد کړل شي او هم درس بايد لږ، لږ په ذهن کې کينول شي، دا د ښووني تر ټول ګټوره لاره ده، کومه چې د انسان روحي غوښتنو ته ځواب ويلای شي، په دويم قدم کې بايد په اختلافي مسائلو باندې هم رڼا واچول شي، په دريمه مرحله کې بايد يوه پيچلې او مغلقه مسئله د تشريح او توضيح سره وړاندې کړل شي.

۲- په يو وخت کې يو فن

ابن خلدون په دې خبره باندې تاکيد کړی دی، چې په يو وخت کې بايد يو فن زده کړل شي، په يوه وخت کې بايد دوه علوم زده نه کړل شي.

۳- د اسان نه د مشکل په طرف

د ابن خلدون په نظر، زده کوونکو ته بايد لومړی اسان او بيا سخت مسائل بيان کړل شي، تر څو د ماشوم ذهن هغه طرف ته لاړ شي، نو د ماشوم ذهن به د مشکل سره بلد شي.

۴- د حساب تدريس

ابن خلدون د حساب په تدريس باندې ځکه تاکيد کړی دی، چې دا مضمون په ماشومانو کې درست او د فکر ښه طريقه پيداکوي او ماشومانو ته صلاحيت ورکوي، چې په يوه مسئله کې سوچ وکړي، حساب په ماشومانو کې د دليل ويلو قوت او طاقت پيداکوي.

۵- د مناقشې طریقه

د ابن خلدون په نظر، په علم کې د پرمختګ لاره په زده کوونکو کې د مناقشې (بحث او مباحثې) رامنځته کول دئ او هغوی ته باید داسې فرصت ورکړل شي، تر څو په عملي مسائلو کې مناقشه وکړي.

۶- په مورنۍ ژبه زده کړه ورکول

ابن خلدون په ښوونه او روزنه یو ښه معلم پېژندل کیږي، هغه په دې خبره تاکید کړی دی، چې د زده کړې پیل دې په مورنۍ ژبه باندې وکړل شي؛ ځکه، په بله ژبه کې د زده کړې لاسته راوړل د نیمايي زده کړې سره برابره ده.

۷- د دیني علومو تدریس

ابن خلدون وایي، چې د قران کریم تدریس دې په درېیم منزل کې پیل شي؛ ځکه په لومړي سر کې د ماشوم ذهن بالغ نه وي، چې هغه وکولای شي، د قران کریم د ایات په مفهوم باندې په درست ډول پوه شي، اصول دین او اصول فقه دې، د قران کریم د زده کړې نه وروسته ورکړل شي، د اصول دین او اصول فقه نه وروسته ابن خلدون د حدیثو د زده کړې نوم اخیستی دی؛ ځکه په ماشومانو کې باید د لومړي سر څخه د ایمان قوي والی پیدا شي، تر وروسته تری ښه اشخاص جوړ شي.

۸- د مجهول نه د معلوم په طرف

د ابن خلدون په نظر، د مجهول نه د معلوم په طرف تګ یو ښه تدریسي اصل دی، دا یو فطري اصل دی، چې ابن خلدون وړاندې کړی دی.

۹- د قران کریم ښوونه

ابن خلدون د قران کریم په ښوونه باندې تاکید کړی دی، په خپله مقدمه نومې کتاب کې یې داسې ویلي، چې په اسلامي امت کې د قران کریم ښوونه یو دیني شعار دی او په ټولو ښارونو کې پرې عمل شوی دی، په دې سره د ماشومانو عقیده په قران کریم باندې قوي کیږي؛ ځکه کله چې ماشوم د قران په اساس وروزل شي؛ نو ټول علوم به د قران کریم په اساس لولي.

کوچنیان په لومړي سر کې ډېر رینتیا ویونکي وي او د راتلونکې زده کړو لپاره یې اساس وي، هر هغه څه چې یې په زړه کې کینول کیږي، هغه یې د راتلونکې لپاره ریښه وي.

د ښوونکي او زده کوونکي اړیکي

ابن خلدون د زده کوونکو په اړه ویلي، چې استادان باید د زده کوونکو سره په همدردۍ سره مخامخ شي، که زده کوونکو ته په تشدد او جدي ډول زده کړه ورکړل شي؛ نو زده کړه به یې په زده کوونکي باندې هیڅ اغیز ونکړي.

هغه د ماشومانو په معقول تربیت باندې تاکید کړی دی، هغه ددې خبرې سخت مخالف دی، چې د ماشومانو د تربیت په وخت استاد په زده کوونکو باندې تشدد کوي او د هغوی اخلاقي او عقلي شرف ته زیان رسوي.

ابن خلدون د محمد بن ابي زید غوندې په ماشومانو باندې د شفقت مشوره ورکړې ده او همداسې امام غزالي هم په خپل کتاب احیاء العلوم کې استادانو ته همدا مشوره ورکړې ده.

د سزا ورکول طریقه

د ابن خلدون په نظر، د زده کړې په دوران کې کوچنیو ماشومانو باندې سختي او تشدد کول ډیر زیان لري، د تشدد په کولو سره د هغوی زړه له زده کړې نه بدیږي، هغوی د تشدد په ذریعه دروغ ویل پیلوي، زده کوونکی مکر او فریب خپلوي، د تشدد په واسطه کورنی سره د ساتني مینه یې ختمیږي او په نورو باندې بوج کیږي.

چارلس عساوي په خپل کتاب کې، چې د مقدمې انګلیسي ژباړه یې کړې ده، لیکلي، چې د جسمي سزا ورکولو لپاره مسلمانو پوهانو حدود ټاکلي وه، ابن خلدون د محمد بن ابي زید سره په دې خبره موافق دی، چې ماشوم دې په یو وخت کې د دریو لښتو نه زیات نه وهل کیږي، د وهلو طریقه یې هم بیان کړې، چې په لاس دې ووهل شي، لښته باید داسې نه وي، چې هډوکی مات کړي.

ابن خلدون وایي، ښه طریقه داده، چې زده کوونکو ته قران، حدیث، قصص الانبیاء او د دین د مشرانو د ژوند حالات بیان کړل شي، د استاد شخصیت باید د زده کوونکو لپاره یوه نمونه وي.

د علم په لاسته راوړلو کې د سفر اهمیت

د علم د لاسته راوړلو لپاره د وطن پرېښودل او د وخت د علماؤ سره کتل، علم ته څلور ستوري لګوي، وجه یې داده، چې انسان کله علوم، اخلاق، د مذهبونو اړوند علم او نور کله د تعلیم له لارې ترلاسه کوي او کله یې د خبرو له لارې لاسته راوړي؛ خو هغه څه چې د خبرو له لارې ترلاسه کیږي، هغه په پوخ ډول زده کیږي او په زړه کې ژور ځای نیسي.

څومره چې د استادانو سره نږدې وي، هغومره یې په مهارت کې استحکام منځته راځي، ځیني زده کوونکي فکر کوي، چې دا هم د علومو یوه برخه ده، چې د استادانو سره ډیر نږدې وي، زده کوونکي د استادانو سره په نږدې اوسیدو سره مسائل ښه زده کوي، د ګټو او کمالاتو د ترلاسه کولو لپاره یو زده کونکي ته په کار دي، چې سفر وکړي، تر څو د مختلفو استادانو نه ګټنه (استفاده) وکړای شي.

ابن خلدون وایي، چې د علم د زده کړې د ترلاسه کولو لپاره سفر کول او د وتلو علماؤ سره کتل، باید د یو لازم پروګرام په واسطه ترسره شي، د علم د زیاتوالي او ژور کیدو لپاره سفر ډیر اړین دی، بله اړینه خبره داده، چې د ښوونکو شمیر هم د زده کوونکو په قابلیت باندې اغیز لري؛ ځکه، نو زده کوونکو ته په کار ده، چې د خپل وخت د زیاتو ښوونکو سره اړیکي ولري.

ابن خلدون وایي، چې د علم د لاسته راوړلو لپاره سفر کول اړین دي، د سفر په واسطه ترلاسه شوی علم د زیات وخت لپاره پاتې کیږي، د سفر په ذریعه د زده کوونکو د علم د قوت د مشاهده کولو قوت زیاتیږي، نوې تجربې زده کوي او د غور او فکر عادت یې پخیږي.

د ابن خلدون په وخت کې د لیرې سفر کولو نه بغیر د علم لاسته راوړل په بشپړ ډول سرته نه رسیدل او زده کوونکو به د علم د لاسته راوړلو لپاره سفرونه کول، په هغه وخت کې د هر سفري زده کوونکي لپاره په مدرسو کې د قیام او طعام ځانګړی انتظام موجود وه، په دې کې هیڅ شک نشته، چې انسان علوم، اخلاق او فضائل د کتابونو د مطالعې له لارې هم ترلاسه کولای شي؛ خو، د ښوونکو د مناقشې له لارې د علم لاسته راوړل او په مینه او محبت سره خبرې کول، د کتابي مطالعې نه ډیر اغیزمن وي، په دې ډول په اسلامي تعلیمي نظام کې سفر ستر اهمیت لري.

علوم

علامه ابن خلدون په خپل کتاب مقدمه کې د علومو لپاره یو فصل ځانګړی کړی دی، په دې فصل کې د هغه وخت د علومو په غرض او مفهوم باندې بحث شوی دی، د علامه دغه علوم افاقي حیثیت لري او سربیره پر دې د انسانانو لپاره ډیر ګټور دي.

په دې علومو کې ګټه ډیره موجوده وي، دا ټول علوم د انسانانو د روحي او مادي مسائلو د حل کولو لپاره کوښښ کوي.

د تمدنونو په اړه ابن خلدون وایي، چې تعلیمي کړنې هغوی ته ډیره ګټه رسوي.

ځکه، علم او تدبر د انسان ذهن، ټولنیز ژوند او روحي ژوند کې یووالی رامنځته کوي او دا د فطرت غوښتنه هم ده.

علم د عرفان سرچینه ده او عرفان د ژوند سرچینه ده او د دوی څخه لوړ د علم مفهوم دی.

د ابن خلدون له نظره، علوم د ټولنیز او کلتوري پرمختګ ښکارندوی دي، برعکس علمي جمود د ټولنې د انتشار او بربادۍ سبب ګرځي، د علمي تحریک موخه د حق ترلاسه کول دي، ددې علم وروستی غرض دادی، چې انکشافات او حقائق د یو نسل نه بل نسل ته انتقال شي.

ابن خلدون وایي، چې د هرې ډلې لپاره د ژوند او کائناتو نه د ګټې اخیستلو لپاره اړینه ده، چې د حقائقو نه ګټه واخلي، کنه نو د نه اخیستونکو قومونو زوال به پیل شي.

ځکه؛ نو، د مذهبي، کلتوري، ساینسي او فلسفي علومو زده کړه د ټولنې د هر وګړي لپاره ضروري ده، تر څو ټولنه د جمود ښکار نه شي او ټولنیز پرمختګ لا ګړندی شي.

د علم زده کړه یو صفت دی

کله، چې یو انسان د علم د اصولو او قواعدو د اساساتو تر څنګ د یو علم جزیات زده کړي؛ نو، هغه انسان د علم ماهر شي؛ خو، کله چې هغه خپل زده کړی علم په عمل کې پلی کړي، بیا پرې پوره پوهیږي او د علم لاسته راوړونکی په خپل علم باندې عالم شي، د علم لاسته راوړونکی خپل ذهني صلاحیتونه او وړتیاوې استعمالوي او په ذکر شوي علم کې د کمال درجې ته رسیږي.

د علم زده کړه او د علم بل ته ښوول یو صفت دی، په علم کې د پوره برلاسټیا لپاره په کار دي، چې زده کوونکي زیات وخت د علمي مسائلو پر مناقشه او مناظره باندې تیر کړي، په دې کار سره زده کوونکي په خپل علم او فن کې ماهر کیږي.

د تضاد نظریه

ابن خلدون ښاري او کوچیانی صحرایي ژوند د یو بل سره په تضاد کې ښيي، د ښارونو د اوسیدونکو مزاج، اوسیدل او روایات د کوچیانو خلک ستر توپیر لري.

په همدې لحاظ یې د یو نسل نه بل نسل ته د دواړو تمدونونو د ژوند علمي څیړنه کړې ده.

هغه وایي، کله، چې کوم صحرایي قوم ښارونه ونیسي او ښاري ژوند خپل کړي؛ نو بیا په تدریجي ډول د هغوی قوت پای ته رسیږي.

د تصوف علم

په اسلام کې د شريعي علومو څخه يو هم تصوف دی، تصوف د سلفو د سترو اصحابو، تابعينو او د هغوی نه وروسته خلکو د هدايت او حق ته د تللو لاره ده.

دې علم اساسي اصل خپله ټوله توجه عبادت ته اړول دي او د دنيا د لذتونو سره اړيکه پريکول دي.

ځيني وايي، چې دا لفظ د صفي نه اخيستل شوی، چې د يوې جونپړې په معنا ده؛ خو، قياس دا خبره نه تاييدوي.

د تصوف د علم خاوندان د علومو پيژندنه د ادراک له لارې کوي، په دې سره شک، وهم او نور له منځه ځي.

صوفيان وايي، روح چې په بدن کې پيژندل شوی دی، دا هغه شی دی، چې انسان ممتازوي.

د شريعت علم فقهاؤ او مفتيانو ته ځانګړی شوی دی، يعني عبادات او معاملات د هغوی پورې تړلي دي او مجاهدې او محاسبې د صوفيانو پورې تړلي دي.

ځيني صوفيان مفتيان او مدرسي مني او ځيني يې نه مني، صوفيان د وحدت نظريې ته قائل دي، د صوفيانو په ليکنو کې د قطب لفظ هم ليدل کيږي، چې معنا يې د عرفانو خلکو مشر دی.

د تعبيرالرؤيا علم

دا علم هم رامنځته شوی دی، زيات شمير علماؤ پرې کتابونه ليکلي دي.

خوب او تعبير کول يې، د نن په څير په سلفو کې هم موجود وه، د اسلام نه مخکې هم په مختلفو قومونو او سلطنتونو کې يې موجوديت درلوده او د خوبونو تعبيرونه به يې کول.

کله، چې انسان د خوبه راپاڅيږي؛ نو، وايي، چې نن مې خوب کې فلانی شی وليده؛ خو، حقيقت دادی، چې خوب د يوې نه يوې پيښې سره تړلی وي.

عددي علوم

حساب د عددي علومو يوه برخه ده، حساب يو علمي صنعت دی، ددې اساسي مسائل جمع، منفي، ضرب او تقسيم دي، دا ډير لوی او ګټور علم دی.

پخوانيو ويلي، چې ماشومانو ته دې لومړی د حساب علم زده کړل شي، ددې علم زده کړه ډيره اړينه ده؛ ځکه، په هره معامله کې حساب ته اړتيا پيښيږي، د حساب علم په واضحو معلوماتو او منظمو دلايلو باندې سمبال دی، ددې علم په زده کړې سره، په عقل کې روښنايي او په نفس کې صداقت رامنځته کيږي.

هغه شخص چې په حساب کې ماهر وي، په هغه باندې به صداقت او ريښتينولي غالبه وي، هغه لپاره ريښتيا ويل د عبادت شکل خپلوي.

په هغه وخت کې په مغرب کې د حساب په اړه ښه کتاب د (الحصار الصغير) په نوم ليکل شوی وه، د حساب په اړه د ابن بناء مراکشي کتاب هم د يادولو وړ او د ښو کتابونو له جملې څخه دی، دا کتاب د عامو قاعدو لپاره جامع او ګټور کتاب دی، ابن بناء ددې کتاب شرح د (رفع الحجاب) په نوم ليکلي ده.

الجبر

الجبر هم د اعدادو د علم يوه څانګه ده، په دې علم کې د مجهول عدد نه معلوم عدد راويستل کيږي.

عدد لومړی درجه لري؛ ځکه، په دې سره مجهول عدد تعینیږي، کوم چې د خاص نسبت نه راویستل کیږي، دویمه درجه د شي ده؛ ځکه، هر مجهول یو شی دی او جذر هم وي، په دویمه درجه کې ضعف لازم دی، دریمه درجه د حال ده، ددې درجو نه وروسته نمبر د نورو مجهولاتو دی او هغه دوه مضربونه دي.

په الجبر کې، هره پوښتنه د دوه یا زیاتو مختلفو شیانو تر منځ مساوات رامنځته کوي او حلوي یې، په دې ډول د یو شي د بل شي سره مقابله وي او کسرونه په درست ځای کې راوړل کیږي، کله، چې د دواړو تر منځ مساوات رامنځته شي؛ نو، پوښتنه حل شي.

د الجبر لومړی لیکوال ابوعبدالله خوارزمي دی، د هغه وروسته ابو کامل شجاع بن اسلام دی، سربیره پر دې نورو هم د الجبر د علم اړوند کتابونه لیکلي دي، چې په ټول کې وتلی او ښه کتاب (کتاب القرشي) دی.

ریاضي او هندسه

په دې علم کې د یوناني یوه اقلیدس کتاب وتلی دی، دا کتاب په عربي ژبه هم ژباړل شوی دی، دا کتاب په (کتاب الاصول) او (کتاب ارکان) باندې هم مشهور دی، دا کتاب د هندسې د علم د زده کړې لپاره ډیر ګټور دی، دا کتاب څو کسانو ژباړلی دی، ددې کتاب یوه ژباړه ابوجعفر منصور هم کړې ده، یوه حنین بن اسحاق هم کړې ده، یوه ثابت بن مقره او یوه هم یوسف بن حجاج کړې ده.

دا کتاب ډیر اختصار شوی هم دی، چې ابن سینا په خپل کتاب (تعالیم شفا) کې یو فصل ددې لپاره ځانګړی کړی دی.

ابن الصات هم ددې اختصار د (کتاب الاقتصار) په نوم کړی دی، زیات خلکو شرحې هم لیکلي دي، چې همدغه کتاب د ریاضي او هندسې لپاره سرچینه شمیرل کیږي.

د ریاضي په واسطه په عقل کې روښنایي او فکر کې استقامت رامنځته کیږي؛ ځکه، د ریاضي په واسطه ترتیب، روښانه نظم رامنځته کیږي او د غلطیو امکان ډیر نه وي.

ددې فن یوه څانګه د کروي اشکالو پورې ځانګړې شوې ده، دویم څانګه یې د مخروطي اشکالو پورې تړلې ده.

مساحت هم د ریاضي یوه برخه ده، د انجینرۍ علم تر هغه وخته نه شي بشپړیدای، تر څو د ریاضي او هندسې علم یې پوره نه وي یاد کړی.

په دې موضوعاتو باندې یونانیانو زیات کتابونه لیکلي دي، په مسلمانانو کې ابن الهیثم په دې موضوع کې زیات کتابونه تألیف کړي دي.

د منطق علم

د منطق علم داسې علم دی، چې د ماهیت د ترلاسه کولو لپاره دلایل په کې ویل کیږي.

اصلاً د حسونو ادراک په ټول حیواناتو کې مشترک دی، که هغه ناطق وي که غیر ناطق.

په یونان کې ارسطو د منطق د علم مسائل ښه وڅیړل او منطقي مسائل ترتیب او په فصلونو باندې یې وویشل او دغه فن یې د حکمت د علم سرچینه وټاکله.

په دې وجه ارسطو ته لومړی معلم وایي، د ارسطو د منطقو د کتاب د علم نوم (نص) دی، چې په اتو فصلونو باندې یې ویشلی دی، په دې کتاب کې څلور کتابونه د قیاس په اړه دي او څلور د قیاس د مادې په اړه دي.

د یونان پوهانو د منطق په علم ډیر کار کړی دی، ددې ټولو یوناني کتابونو ژباړه عربي ژبې ته شوې ده او مسلمان فلسفیانو په دې باندې شرحې هم لیکلي دي، په دې شرحه لیکونکو کې فارابي او ابن سینا د ځانګړي نوم خاوندان دي، په اندلس کې ابن رشد د یادولو وړ شخص دی او ډیرې ښې شرحې یې لیکلي دي.

امام فخرالدين رازي او فضل الدين خونجي هم د منطقو د علم اړوند ډیر ښه اثار لیکلي دي.

نوربیا